# د کتونکو د چلند اصول

د چلند دا اصول د ټاکنو قانون د **۵۵** مې مادې پربنسټ،د ټاکنو د بېلا بېلو پړاوونو په ترڅ کې د کتونکو او د هغوی د استازود فعالیتونو د سم تنظیم په موخه رامنځته شول.

د چلند د اصولو نه رعایتول، سرغړونه (تخلف) ګڼل کېږي. سرغړونه کېدای شي د مجازاتو د وضع کېدو لامل شي او یا د ټاکنو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته کمیسیون) او یا د ټاکنیزو شکایتونو خپلواک کمیسیون (له دې وروسته د شکایتونو کمیسیون) له خوا د اقداماتو غوښتنه وشي.

کتونکي بنسټونه هم د خپلو استازو د سرغړونې مسوول او ځواب ویونکي دي.

د ټاکنو قانون د **۵۵** مادې پر بنسټ کتونکي او بنسټونه یې د لاندینیو حقونو او مکلفیتونو لرونکي دي:

1. له کمیسیون څخه د باورلیک ترلاسه کول.
2. د رای ورکوونکو د نوم ثبتونې،د نوماندانو د نوماندي، ټاکنیزو سیالیو، رای ورکولو، رای شمېرلو، د رایو د جدول بندي، شکایتونو ته د رسېدو، د پایلو د تصدیق او اعلان په ګډون د ټولو ټاکنیزو برخو د کتنې په موخه د رای ورکولو او رای شمېرلو په مرکزونو کې د کتنې په موخه حضور لرل.
3. د کمیسیون د طرزالعملونو له مخې د ټاکنو بهیر اړوند معلوماتو ته لاسرسی.
4. واقعیت اصل ته په پام د ټاکنیزو پېښو په هکله د راپور ترتیب او خپرول.
5. نړیوال کتونکي کولی شي په هغه ټاکلې موده کې چې کمیسیون یې ورته مشخصوي، د ټاکنو د پروسې په هکله بې پرې راپورونه تیار او د کمیسیون، حکومت، ملګرو ملتونو دفتر او رسنیو په واک کې یې ورکړي.
6. بین المللي کتونکي حق لري څو خپل اعتراضونه او شکایتونه د شکایتونو کمیسیون ته ولېږي.

د قانون مطابق(                    )، په ټاکنو بهیر کې د کتونکي بنسټ په توګه رسماً اعلان کوي چې د دې بنسټ استازي او کارکوونکي د ټاکنو بهیر څخه د کتنې پرمهال د اساسي قانون، د ټاکنو قانون، په هېواد کې د ټولو

نافذو قوانینو حکمونه، د کمیسیون او د شکایتونو کمیسیون لایحې، طرزالعملونه، لارښودونه او ټول تصویب شوي اسناد او همدارنګه د چلند دا اصول رعایتوي.

۱. په هیڅ ټاکنیز پړاو کې غیر قانوني او غیر اصولي مداخله نه کوي او ورسپارل شوې دندې په بشپړ بې پرېتوب ترسره کوي.

۲. د ټاکنو بهیر د کتنې پر مهال باید د کمیسیون له خوا ورکړل شوي کارتونه داسې وکاروي چې د لیدو وړ وي.

۳. د ټاکنو د بېلا بېلو پړاوونو د کتنې پر مهال دننه په محل کې، د مسؤولینو له خوا د کتونکو د تراکم، بې نظمي اود بهیر د پڅوالي د مخنیوي په موخه وضع شوي زماني او مکاني محدودیتونه ، په کلکه رعایت کړي.

۴. د ځانګړو نښو په ښودلو (په جامو باندې) ، د وینا او حرکاتو په وسیله د کوم سیاسي ګوند ، ټلوالې یا نوماند ملاتړ او پلویتوب نه کوي.

5. د رایې سریتوب ته درناوی ولري او په دې اړه اړین اقدامات کوي.

۶. د ټاکنوبهیر په ترڅ کې د هغوکلیمو ، جملو او عبارتونو له استعمال څخه کلکه ډډه کوي چې د احساساتو ، توکمیز ، قومي ، سیمه ییزو ، ډله ییزو ، جنسیتي او یا مذهبي تعصباتو او تبعیض لامل ګرځي.

۷. د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون او د ټاکنو بهیر اړوند ټول مراجع د ټاکنو خپلواک کمیسیون سره لازمه او قانوني مرستهکوي.

۸. د ټاکنو قانون ، د ټاکنو خپلواک کمیسیون او د ټاکنیزو شکایتونو کمیسیون ټولې پرېکړې (مصوبات)جداً رعایت کوي.

۹. ټول ترلاسه شوي معلومات اړوند بنسټ ته رسوي، خو په رسنیو کې یې له خپرولو ډډه کوي.

۱۰. د ټاکنو رسمي او قانوني اعلان شوې پایلې غوره ګڼي.

۱۱. یواځې هغه اداره چې کتونکي یې د هغې استازیتوب کوي، د ټاکنیزو چارو او ټاکنو بهیر په اړه خپل رسمي نظر څرګندولی شي.

۱۲. د کتونکي په توګه د ورسپارل شوو دندو د ترسره کولو پر مهال، د ټاکنو د پایلو او اړوندو چارو په تړاو مخکې له مخکې د غېرواقع بینانه قضاوتونو څخه په کلکه ډډه کوي.

۱۳. د کتنې پر مهال د ټاکنو بهیرکې هرې پېښېدونکې بې نظمي په اړه چې د ټاکنيزې پروسې د ګډوډي لامل کېږي،د هرې ممکنې لارې څخه په ګټه اخېستنې د ټاکنو خپلواک کميسيون مسؤولينو ته خبر ورکوي.

۱۴. د کتونکي په توګه د دندو د ترسره کولو پر مهال، د هر ډول ډاليو (نغدي او غېرنغدي) له منلو څخه چې سياسي ګوندونه، نوماندان، استازي، کتونکي او په ټاکنو کې د خيلې خواوې يې ورته وړانديز کوي، په کلکه ډډه کوي.

15. په ټولو ټاکنيزو قوانينو ، لايحو ، د چلند اصولو او طرزالعملونو باندې ځانونه پوهوي.

۱۶. کورني کتونکي بنسټونه د هېواد د نافذو قوانينو د حکمونو برخلاف، مالي امکانات نه شي ترلاسه کولی.

۱۷. کورني کتونکي بنسټونه د رأی ورکولو هغه مرکزونه چې دوی يې کتلی شي، کميسيون ته مشخصوي او د ټاکنو په بهير کې د رای ورکولو د همغو مرکزونو په کتلو مکلف دي.

۱۸. د ټاکنو بهیر د کتنې پر مهال کورني او نړېوال کتونکي، د پورتنيو ټکو پر رعايتولو سربېرهد افغانستان ملي ارزښتونه مراعتوي او بشپړ درناوي ورته لري.

بنسټ: ................................................ با صلاحيته استازې: ................................................

لاسليک: ........................................ ځای: ........................ نېټه: ................................................